نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۵/۰۱/۲۵

# افغان کابینه: ستونزې او اندیښنې

## پنجشیر، مجاهدین، کمونستان او سیکولران

داخل په نوې نومول شوې کابینه کې تر ټولو ډېر تاوان د پنجشیر پخوانیو چارواکو وکړ، پخوا به ډیری وزیران او د دولت مهمې چوکی د پنجشیر د کسانو سره وې. دا ډول پروان هم پخوا مهم کسان درلودل، دا ځل نشته، تخار بیخي یکې څوک نه لري. پنجشیر ته یواځې د عامي د لندمهاله حکومت په جوړښت کې پښتون ۳۴٫۵٪ تاجک ۳۸٪، هزاره ۱۷٫۲ سلنه او ازبک ۱۰٫۲٪ ؤ. حکومت د ولسمشر اومرستیالانو په ګډون ۲۹ چوکی وې روغتیا وزرات ورکول شوې.
د ولسمشر مرستیال او دفاع وزیر فهیم، د کورنیو چارو وزیر قانوني او د بهرنیو چارو وزیر عبدالله تاجک او په ځانګړې ډول د پنجشیر اوسیدونکي ؤ. دا ډول د ملي امنیت اداره د پنجشیر د محمد عارف سروري سره وه

د انتقالي دوری حکومت په جوړښت کې پښتون ۵۴٫۳٪، تاجک ۲۰٪، هزاره ۱۴٫۴٪ او ازبک ۱۱٫۴٪ ؤ، د ولسمشر او مرستیالانو په ګډون د حکومت ۳۵ چوکی وې.
د ولسمشر مرستیال او دفاع وزیر فهیم، بهرنیو چارو وزیر عبدالله او پوهنې وزیر قانوني تاجک اود پنجشیر ؤ. د ملي امنیت اداره د پنجشیر د محمد عارف سروري (اکتوبر ۲۰۰۱- فیبرورې ۲۰۰۴ ) سره وه.

د پخواني ولسمشر کرزي په لومړې دوره ( ۲۰۰۴ – ۲۰۰۹ زیږدیز کال) دقومونو سلنه په یوه حال نه وه، اونه هم وزارتونه په یو حال پاتې شول، ځیني داسې وزارتونه ؤ چې په ۵ کلونو کې یې ۵ وزیران او ځینو ۴ وزیران بدل او رابدل شول.
د ولسمشر لومړی مرستیال احمدضیاء مسعود، بهرنیو چارو وزیر عبدالله، د پنجشیر او یو کال وروسته د کورنیو چارو وزیرهم د پروان تاجک ضراراحمد ( ۲۰۰۵ – ۲۰۰۸) وټاکل شو ، دا ډول د دفاع وزیر رحیم وردګ مګر لوی درستیز بسم الله محمدي چې پوره واک او صلاحیت له ده سره ؤ.
د پارلمان ریاست چې مشر یې یونس قانوني ؤ، کورنیو چارو وزارت او امنیت ریاست له پنجشیر سره ؤ امرالله صالح د ملي امنیت مشرتوب له فیبرورې ۲۰۰۴ څخه تر جون ۲۰۱۰ پورې وکړ. هغه وخت لیری شو چې لویې جرګې ته دولسمشر کرزي د ننوتلو په وخت کې په هغه راکټي برید وُشو، او راکټ ډیر نږدې ورته ولګیدی.
اسماعیل خان هم د ده د خوښې خلاف له هرات ولایت څخه کابل ته د اوبو او بریښنا وزیر په توګه راوستل شو
د پخواني ولسمشر کرزي په دویمه دوره (۲۰۰۹ - ۲۰۱۴ زیږدیز کال) د قومونو سلنه په یوه حال نه وه، اونه هم وزارتونه په یو حال پاتې شول، ځیني داسې وزارتونه ؤ چې په ۵ کلونو کې په یوه وزارت کې ۴ وزیران او ځینو کې ۳ وزیران بدل او رابدل شول.
د ولسمشر لومړي مرستیال چوکی له قسیم فهیم، دفاع وزرات رحیم وردګ او بسم الله محمدي، بهرنیو چارو وزارت زلمی رسول او ضرار احمد مقبل، کورنیو چارو وزارت، اتمر، محمدي، پتنګ او داؤد زی، د کلیو پراختیا وزارت له ویس برمک سره او د ملي امنیت مشرامرالله صالح او وروسته رحمت الله نبیل ؤ.
بلخ ولایت د امریکا له حملې تر اوسه د تاجک عطاء محمد نور په لاس کې ده چې د دوستم رقابت ورسره پاتې دی
اوسنی کابینه چې د ولسمشر اشرف غني د حکومت درې نیمې میاشتې وروسته معرفي شوه، په لومړی لست کې د کابینې ۲۵ نوماند وزیران ؤ چې په هغه کې پښتون٪۴۰، تاجک ٪۲۸، هزاره٪۱۶ ، ازبک ۱۲ ٪ او ترکمن ٪۴ ؤ.
۱۳ وزیران ولسمشر اشرف غني او ۱۲ وزیران ډاکټر عبدالله معرفي کړي ؤ، د ملي امنیت په مشر د دواړو اتفاق ؤ، د کابل بانک رئیس ولسمشر معرفي کړی ؤ او دواړه پښتانه دي.
په دغه کابینه کې د ځینو مهمو او نا امنو ولایتونو څخه کسان نه ؤ نیول شوي، لکه هلمند، پکتیا، کنړ، نورستان، سرپل او غور.
نږدې لس تنه پکي پخواني کمونسټ پلوه وزیران ټاکل شوي او دا ډول پکې تکنوکراتان لویدیځ پلوه وزیران هم ډیر دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دوي کې يې ۱۲ بهرنی تابعيت لري ځيني راپورونه وايي چې ۱۱ او ځيني راپورونه ښئي چې ۱۳ تنه دي. او تر ۵ تنو ېکي د امريکا تابعيت لري.
د مالي وزارت ته نوماند غلام جيلاني د نامعلومو دلايلو له مخي له خپلې نوماندي منصرف شو، ځيني راپورونه وايي چې د وکيلانو غوښتني يې نه شوای پوره کولای، او ځيني راپورونه دي چې د ولسمشر له خوا ورته ويل شوي ؤ.
دويم تن يې د کرهني نوماند وزير يعقوب حيدري ؤ چې په استونيا کې د ماليې نه ورکولو په تور ۴ کاله بند پري ختلي او انترپول پوليس يې په لټه کې ؤ.
دريم يې محمود صيقل ؤ چې د خپل بهرني تابعيت څخه دنه تيريدو له امله له نوماندي څخه تير شو.
په نوي کابينه کې ډيری داسي کسان دي چې زده کړې يې په بريتانيا کې کړي، دا ډول د امنيت شورا مشر اود ګډ حکومت دوه لومړني واليان چې معرفي شول هم د بريتانيا سره ښې اړيکي لري.
د کابينې او ولايتونو په انتخاب کې د امريکا او بريتانيا رول له ورايه ښکاري، ځيني شنونکي وايي چې تر ډيره د افغانستان مسئله امريکا بريتانيا ته په اوږو وراچولي ده.
د نوي کابينې اعلان سره پخواني مجاهدينو ټکان خوړلي او په نورو لارو فکر کوی، ځکه چې د دوی رول پکي کم دی.
پخواني مجاهدين وايي چې ډيره لويه ونده پخوانيو کمونستانو ته ورکول شوې، او په ځانګړي ډول امنيتي وزارتونه او د امنيتي ادارو مشرتوب.
پخواني مجاهدين او پخواني کمونستان چې د روسانو د يرغل پرمهال د ترخو جګړو يادونه يې په مغزو کې لاهم پاتي دي، په آساني سره به يو بل ونه زغملای شي، او دغه کار به طالبانو ته ګټه وکړي.
د ولسي جرګې غړو پريکړه کړه چې ۷ وزيران او د کابل بانک رئيس د دوو تابعيتونو له کبله د کابينې له لسټ څخه وباسي، مګر دغه پريکړه د ځينو وکيلانو له خوا له ننګوني سره مخ شوې.
اوسنی قومي جوړښت يې پښتون ٪۳۱,۲۵، تاجک ٪۳۱,۲۵، هزاره٪۱۸,۷۵ ، ازبک ۱۲,۵ ٪ او ترکمن ٪۶,۲۵ ؤ. چې دا آخرنی نه ده او تغيرات به پکي راځي.
ځيني داسي راپورونه هم ؤ چې د عبدالله ډله به هڅه وکړي چې د دوی له خوا لومړی لسټ کې وزيران او په ځانګړي ډول د کورنيو چارو وزارت ته نوماند وزير علومي د پارلمان څخه رايه ونه ګټي، او پرځای يې بيا بل څوک معرفي شي. ويل کيږي چې علومي له خپل بهرني تابعيت څخه هم تير شوی.
اوسني راپورونه دادي چې د ګډ حکومت مشران هڅه کوي چې دغه اوه تنه نوماند وزيران او د کابل بانک نوماند رئيس بيرته د ولسي جرګې غړي ومني.
د ولسي جرګې دننه دا خبری هم کيږي چې ټول دوه تابعيت لرونکي نوماند وزيران له لسټ څخه نه دي ايستل شوي.
وکيلانو په خوا هم پيسي اخستي داخل هم ممکن ده، همدا اوس له ۱۲ څخه يې ۷ د تابعيت له امله ونه منله ،د ۵ په اړه به د پردي شاته څه شوي وي. معلوميږي چې د کابينې او ولسي جرګې تر منځ کشمکش به ډير وخت ونيسي، خو که وکيلان ډير امتيازات ترلاسه کړي بيا به ستونزه ژر حل شي، که اړتيا وليدل شي، ممکن د امريکا او بريتانيا سفارتونه مداخله وکړي او وکيلان راضي کړي.
عبدالله ته خپله ډله او د ده د ټيم مشران کسان ډير په غصه دي، بسم الله محمدي پخوانی د دفاع وزير، يونس قانوني د پخواني ولسمشر لومړی مرستيال، فضل احمد معنوي پخوانی د ټاکنو کميسون مشر، امرالله صالح پخوانی د امنيت ملي مشر او د مارشال فهيم خوی اديب فهيم. دوی ورته وايي چې ولي د پنجشير برخه پکي کمه ده، يواځي په يوه عادي وزارت دي له غني سره قناعت کړي، دا ډول د عبدالله په ټيم کې د پارلمان او سنا وکيلان هم ورڅخه خفه ښکاري.
بل خوا بيا له ولسمشر غني څخه هم د هغه د کمپاين پر وخت د هغه ډيری ملاتړ کوونکي ناراضه شوي، ځکه د هغوئ خوښه او دهغوئ غوښتني يې د کابينې په انتخاب کې ونه منلي.
مګر مهمه خبره داده چې د کابينې د انتخاب واک تر ډيره د بهرنيانو سره ؤ، نه عبدالله او نه اشرف غني پکي ډير ارت لاس درلود، تر څو چې د امريکي خوښه پکي نه وي، دوی ته ګرانه ده چې خپل ملګري ونومول او انتخاب يې کړي.
استاد سياف، اسماعيل خان، ستار مراد، معنوي، قانوني، محمدي، عارف سروري او اديب فهيم د عبدالله په ټيم کې او حضرت مجددی، پيرګيلاني، آمين وقاد او د حزب اسلامي د شوراګانو مجلس غړې ډير خفه او شاک حالت اختيار کړی.
قيوم کوچي د ولسشمر تره چې د بهرنيو چارو وزارت د غوښتلو وړانديز يې ونه منل شو، اوس بيرته امريکا ته ستون شوی.
د دواړو ډلو خلک فکر کوي چې پخوانی کمونسټ حنيف اتمر د حکومت اربه چرخوي، دوستم يې هم ملاتړ کوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

په اوسني حکومت او د کابيني په لومړي لسټ کې لومړی مرستيال دوستم، د امنيت شورا مشر حنيف اتمر، دفاع وزرات ته نوماند شيرمحمد کريمي، کورنيو چارو وزرات ته نوماند نورالحق علومي، ترانسپورټ وزارت ته نوماند فيض الله ذکي، د اقتصاد وزرات ته نوماند اوغلي، اطلاعاتو فرهنګ وزرات نوماند آی سلطان خيري، د کار او ټولنيزو چارو وزارت نوماند منصور نادري، د مخابراتو وزرات ته نوماند برنا کريمي، د پوهني وزارت ته نوماند زلمي يونسي، د کرهنې وزارت ته نوماند وزير يعقوب حيدري او د حج اوقافو وزارت ته نوماند فيض محمد عثماني پخواني کمونسټ پلوه کسان دي. (درې نومونه ثقه والي ته اړتيا لري)
که د لنډمهاله، انتقالي، د کرزي لومړی او دوهمې دورې ته فکر وکړو او د اوس سره يې پرتله کړو نو بيا ډير زيات توپير ليدل کيږي. د پنجشير مهم او قوي وزيران ګوښې ته کړل شوي او دا ځل د تاجکو په پرتله هزاره او ازبک قومونوډيره ګټه کړي.
يو مهم کار چي اشرف غنی وکړ هغه دا ؤ چي په عبدالله عبدالله يې ومنله چي پخواني وزيران به نوي کابينه کې نه معرفي کيږي، دا يوه ښه کار دی او غني ښه چل کارولي دی. مګر دغه پخواني ځواکمن وزيران به ارام کښينني.
په تيرو ديارلس کلونو کي لومړی ځل دی چي د ولسمشر لومړی مرستيال ازبک دی او دويم يې هزاره ده، مګر ورسره څنګ کي اجرائيوي رئيس تاجک (ځيني تاجک ورونه يې پښتون بولي، مګر دا واضيح ده چي د تاجکو نماينده ګي کوي) او د ښي اداري له پاره ارشد مشاور ضياء مسعود هم تاجک دی.
په ولسي جرګه کي وار له مخه ډلي جوړي شوې، ځيني راپورونه دي چي داځل به پښتون، ازبک اوځيني هزاره وکيلان په پارلمان کي يوکيږي او د تاجکو پر ضد ممکن يو ائتلاف جوړ کړي.
او يا داچي د ولسمشر غني پر ضد يوه ډله وکيلان عمل وکړي، هغو نوماند وزيرانو ته رايه ورنه کړي چي ولسمشر غني معرفي کړي.
ولي په هر صورت پخواني کمونسټ پلوه نوماند وزيران ډير چانس لري چي د پارلمان هوکړه واخلي، هغوئ په تيرو ۱۳ کلونو کي ډير کار کړی، او د پخوانيو اسلامي ګوندونو د خپلمنځي اختلافاتو څخه يې اعظمي ګټه پورته کړي.
په نوي کابينه کي هغه کسان راوړل شوي چي ولسي، سيمئيز او قومي نفوذ او واک نه لري، که کله هم بهرنيان، ولسمشر غني د عبدالله په خوښه وغواړي چي ليري يې کړي په اساني سره يې له وزرات څخه شړلای شي. دا ډول نوي واليان چي معرفي شوي او يا معرفي کيږي هغوئ به هم دغه ډول کسان وي چي ولسي، سيمئيز او قومي نفوذ ونه لري.
د کرزي په وخت کي د لوړ پوړو چارواکو ليري کول ستونزمن ؤ، د مارشال فهيم، بسم الله محمدي، رحيم وردګ، يونس قانونی چي وزيران ؤ، دا ډول د بلخ والي عطاء محمد نور، د ننګرهار والي ګل اغا شيرزي، د پکتيا والي جمعه خان همدرد او ځينو نورو واليانو له دندې شړل اسانه کار نه ؤ.
د پارلمان غړي ځيني يې خپله هم دوه تابعيته لري، د دوبی اقامه خو د هر وزير، مرستيال وزير، وکيل، والي، مرستيال والي، د اردو او پوليسو جنرالانو او د ولايتونو رئيسانو سره په جيب کي پرتي دي حتی د خپلو کورنيو ټولو غړو ته يې د اماراتو اقامي اخستي دي. پکار ده چي د افغان چارواکو د دوبی اقامي هم ختمي کړل شي.
د ارګ او مسجد ترمنځ د فاصلي د کمولو خبره هم ناسمه ده، په ټوله کابينه کي يو سني عالم دين نشته. حتی حج اوقاف او عدليې وزارت ته هم د ښه تکړه عالم دين نه دی نومول شوی.
داچي ځيني ولايتونه به د مسجد امامانو يا عالمانو ته ورکول شي که نه؟ او که ورکول شي؟ دولت پلوه يا نا پيېلو عالمانو ته ورکول کيږي؟
ځيني شنونکي وايي چي امريکا او بريتانيا غوښتل چي د شمال ټلوالي په مشرتوب سياسي اپوزيسون ختم کړي، او ممکن ده چي دغه ځای حامد کرزی ونيسي.
طالبان به له دغه ډول بحراني حالت څخه اعظمي استفاده وکړي، دواړه ډلي به په پټه اړيکي او د دوی نه خفه شوي کسان به هم له طالبانو سره د اړيکو نيولو او دا ډول طالبان به هم له ناراضه شوو سره د اړيکو جوړولو هڅه وکړي.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ